

# په افغانستان کې د کوچیانو د میشتیدنې بهیرونه او پر شخړې د هغوی اغیزې:

انتونیو ګیستوزي

زمری ۱۳۹۸

EUROPEAN UNION

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

څارنیزه څېړنه

# په افغانستان کې د کوچیانو د میشتیدنې بهیرونه او پر شخړې د هغوی اغیزې:

انتونیو ګیستوزی

زمری ۱۳۹۸

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظریاتو منعکس کونکي نه دي.

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۲-۲۴۱-۳۲-۵

د پوښ انځور: د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

د خپرونې کوډ ۱۹۰۵ P

©۱۳۹۸ د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یوائې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، حواله او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شی. په یاده خپرونه کې ځای شوی نظرونه لیکوال پوری اړه لرې او په حتمی ډول د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری او اروپایې ټولنې نظرونه نه منعکوسوی.

که چیری دغه خپرونه بیاچاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (.www.areu.org.af ") ته واستول شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

# د موضوعاتو لیکلړ

د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه ........ ب
د پیل خبري ........ ۱
په پخوا کې د میشتیدو تجربې ........ ۲
د ۲۰۰۱ م کال را وروسته میشتیدنه ........ ۳
د میشتیدنې ترشا عوامل (محرکات) ........ ۳
۱ عامل: اقتصادي اړتیا / بیوزلي ........ ۳
۲ عامل: پوهنې او روغتیایي چوپړتیاوو ته د لاسرسي زیاتوالی ........ ۴
۳ عامل: د یوې پیاوړې ټولنې رامنځته کول ........ ۴
۴ عامل: مالي تراکم او د نویو مهارتونو ترلاسه کول (زده کړه) ........ ۵
قضیوي مطالعې: د میشتیدنې عملي توب او پر شخړې د هغې اغیز ........ ۶
د حکومت په اجازه رامنځته شوي میشتځایونه ........ ۶
د سناتور حاجي جنت ګل د ښارګوټي قضیه ........ ۶
د خوشي د وزیر کاریز قضیه ........ ۸
اساسي موندنې ........ ۹
ناقانونه میشتځایونه ........ ۱۰
د کابل په لوېدیځ کې د حاجي نبي ښارګوټي، د کوچي آباد قضیه ........ ۱۰
د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ د دشت خاکه قضیه ........ ۱۱
اساسي موندنې ........ ۱۲
پایله ........ ۱۳

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو يو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړيوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کيفيت او په پاليسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پايلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسيلوانيا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د يو څېړنيز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکی ده او په منځنۍ آسيا کې د څېړنيزو بنسټونو په منځ کې په پنځم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پاليسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتيا لوړه کړي او د نظرياتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندويه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځينې نوروسازمانونو، مدني ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کيږي.

په همدې ډول، دغه اداره په برېتانيا کې د پروسپيکټ (Magazine Prospect) د مجلې د ۲۰۱۸ کال، د ډېرې ښې نړۍ واله څېړه نيزې ادارې جايزه ګټونکې شوه.

**مالی مرسته کوونکې:**

د دې ادارې مالی مرسته کوونکې د سويډن نړيواله پراختيايي اداره (SIDA) او لاندې نور نړيوال بنسټونه دي:

European Union (EU), Global Challenges Research Fund (GCRF), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Central Asia Regional Economic Cooperation Institute (CAREC), Institute for Integrated Transitions (IFIT), UN Women and Save the Children.

**همدا راز دا اداره د لاندی نړيوالو بنسټونو غړيتوب هم لري:**

RESOLVE Network, Global Challenges Research Fund (GCRF), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB- Asian Think Tanks Network (ATTN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

# د لیکوالانو په اړه

ډاکټر انتونیو ګیستوزي د افغانستان په اړه ډېرې څېړنې کړې او په دې اړه یې زیاتې لیکنې خپرې شوې دي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری لپاره یې دا لاندې لیکنې خپرې کړې دي: ۳۰ کلنې شخړې (۲۰۱۲)، انعطاف منونکی کارتل: په شمالي افغانستان کې له ۲۰۰۱زیږدیز کال او له هغه وروسته سیاسي اقتصاد ، (۲۰۱۲)، د افغان ملي اردو: له مالي اړخونو ها خوا دوامداره ننګونې (۲۰۱۴)، د افغانستان د لیسو سیاسي کول (۲۰۱۵)، د قضیې وروستی حد: د افغانستان په لیسو کې سیاسي فعالیت (۲۰۱۵)، او له ایساف څخه وروسته د افغان ملي اردو (۲۰۱۲). ډاکټر ګیستوزي د نړیوالو اړیکو په برخه کې د لندن د اقتصاد له پوهنځي څخه ډاکټري (پي ایچ ډي) کړې او بولونیا په پوهنتون کې یې د معاصر تاریخ په برخه کې د لیسانس تر درجې پورې زده کړې کړې.

# سریزه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره وياړي چې دغه "ځارنيزه څېړنه" کوم چې د ډاکټر انتونيو ګيستوزي لخوا ليکل شوی او د اروپايي ټولنې له لوری په سخاوتمندانه توګه تمويل شوی، وړاندې کوي. دا څېړنه په لويه کې د اروپايي ټولنې لخوا د طبيعي زيرمو د مديريت د اساسي برخو په اړه د درې اړخيزه څېړنيزې هڅې د تمويلېدونکې پروژې برخه ده.

دا راپور په افغانستان کې د کوچيتوب په تړاو د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د خپرونو د يوې لړۍ پر بنسټ چمتو شوی او هغوی بشپړوي. پدې لړۍ کې يو راپور د کوچيانو- ځايي وګړو ترمنځ د شخړې د مديريت په برخه کې د دولت د ونډې په اړه دی او د کوچيانو- ځايي وګړو د شخړو ډول پېژندنه او همدارنګه د پروژې په پيل کې د لومړنيو موندنو د يو راپور خپرول هم شامل دي. لوستونکي کولای شي په افغانستان کې د "کوچی" د تعريف لپاره، کوم چې د دې پروژې لخوا غوره شوی، او په افغانستان کې د کوچيتوب د ټوليز ليدلوری په اړه د بحث لپاره د لومړينو موندنو راپور ته کتنه وکړي. پدې "ځارنيزه څېړنه" کې ټولې قضيوی مطالعې د پښتنی کوچيانو مېشتځايونه تر پوښښ لاندې راولي، ځکه دوی په افغانستان کې د کوچي مېشتځايونو غوڅ اکثريت جوړوي.

راپور لومړی د ۲۰۰۱م کال نه وړاندې د مېشتېدنې د تجربو په اړه بحث کوي. له هغې وروسته دا راپور، مخکې لدې چې د کوچيانو د څلورو مېشتځايونو قضيوی مطالعې ته کوم چې ټول د ګاونډی ټولنو سره د شخړو له امله اغيزمن شوی، بياکتنه وکړي، د ۲۰۰۱ م کال راپدېخوا د مېشتېدلو د بهيرونو لنډيز وړاندې کوي. په ټوله کې، د دې "ځارنيزې څېړنې" د چمتو کولو لپاره مونږ د ۲۰۱۹ م کال په پسرلی کې د ۱۲ مېشتو کوچيانو سره مرکې ترسره کړې (په هر مېشتځای کې څلور، ټول د ټولنې مشران او ټول يې نارينه). مونږ په عمدی توګه پر کوچيانو ځانګړې تمرکز وکړ (مېشت ګاونډی ټولنې له پامه وغورځول شوې) ځکه مونږ غوښتل د ټولنې له منځ څخه د مېشتېدنې د محرکاتو په اړه نظر ترلاسه کړو. مونږ د دې فرضيې څخه پيل وکړ چې په شاوخوا سيمو کې مېشتې ټولنې به د کوچيانو د مېشتځايونو په اړه نسبتاً منفي نظرونه ولري.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د بې نومو همکارو بياکتونکو څخه د راپور د لابډاينې پخاطر د نظرياتو او تجربو د شريکولو په برخه کې د دوی د زيات ملاتړ څخه کورودانی کوي او همدارنګه د ډاکټر انتونيو ګيستوزي څخه په افغانستان کې د نوموړی د زيار نه ډکې څېړنې له امله مننه کوي.

په درنښت



ډاکټر اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری رئيسه

# د پیل خبرې

دا "څارنیزه څېړنه" د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د پروژې یوه برخه ده چې د اروپايي ټولنې لخوا تمویلیږي. دا راپور په افغانستان کې د کوچیتوب په تړاو د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د خپرونو د یوې لړۍ پر بنسټ چمتو شوی او هڅوی بشپړوی. پدې لړۍ کې یو راپور د کوچیانو- ځایی وګړو ترمنځ د شخړې د مدیریت په برخه کې د دولت د ونډې په اړه دی او د کوچیانو- ځایی وګړو د شخړو ډول پېژندنه او همدارنګه د پروژې په پیل کې د لومړنیو موندنو د یو راپور خپرول هم شامل دی.[1] لوستونکې کولای شي په افغانستان کې د "کوچي" د تعریف لپاره کوم چېددې پروژې لخوا غوره شوی او په افغانستان کې د کوچیتوب د ټولیز لیدلوری په اړه د بحث لپاره د لومړنیو موندنو راپور ته کتنه وکړي. پدې "څارنیزه څېړنه" کې ټولې قضیوی مطالعې د پېښتنی کوچیانو مېشتځایونه تر پوښښ لاندې راولي، ځکه دوی په افغانستان کې د کوچي مېشتځایونو غوڅ اکثریت جوړوي.

د کوچیانو مېشتېدلو ته پالیسی جوړونکی تر ډېره په افغانی ټولنه کې د دوی د لازیات بشپړ ادغام په سترګه ګوري، ترڅو لدې لارې دوی ته چوپړتیاوې د لاسرسی وړ وګرځي او د کوچیانو - ځایی وګړو ترمنځ شخړې ته د پای ټکی کېښودل شي. په حقیقت کې ډیری کوچیان کله ناکله د حکومت په مالی مرسته د عملی کېدونکو طرحو په پایله کې لا له مخکې مېشت شوي، خو زیاته برخه یې تر ډېره د ځانی بهیرونو په پایله کې مېشت شوی.

دا "څارنیزه څېړنه" پر دې موضوع تمرکز کوی چې ولی او څرنګه د کوچیانو مېشتول د کوچیانو - ځایی وګړو پر شخړې اغېز شیندی، ترڅو دې حقیقت ته ورسیږي چې آیا امکان لري چې د کوچیانو د مېشتولو د بهیر څخه د کوچیانو - ځایی وګړو ترمنځ د شخړې کمولو د یوې عملی تګلارې په توګه کار واخیستل شي. د دې کار لپاره دا راپور د کوچیانو د مېشتځایونو څلورو قضیوی مطالعو ته کتنه کوی: دوه د دولت په مالی ملاتړ د رامنځته شوو مېشتځایونو قضیې او دوه د خپلسرې مېشتځایونو قضیې. دغه مطالعات د ځانګړو مېشتځایونو په اړه یو لړ شالیدی معلومات وړاندی کوی، د مېشتولو د بهیر عملی والی تر بحث لاندې نیسی او د کوچیانو - ځایی وګړو پر شخړې د هڅوی اغېز څېړي. موقعیتونه په عمدی توګه یو او بل ته نږدې وټاکل شول ترڅو دوه جوړه قضیوی مطالعې ولرو: په کابل ولایت کې یو خپلسرې او یو د دولت په مالی مرسته قضیه (حاجی جنت ګل او کوچی آباد ) او همدارنګه په لوګر ولایت کې د دواړو څخه یوه یوه قضیه (وزیر کاریز او دشت خاکه). کابل او لوګر لدې امله غوره شول چې دوی د کوچیانو د مېشتېدو دوې اصلی سیمې دي.

راپور لومړی د ۲۰۰۱م کال نه وړاندې د مېشتېدنې د تجربو په اړه بحث کوی، له هغې وروسته د کوچیانو د څلورو مېشتځایونو قضیوی مطالعې ته کوم چې ټول د ګاونډی ټولنو سره د شخړو له امله اغیزمن شوی د بیاکتنې څخه مخکې، دا راپور د ۲۰۰۱ م کال راپدېخوا د مېشتولو د بهیرونو لنډیز وړاندې کوی. په ټوله کې، د دې "څارنیزې څېړنې" د چمتو کولو لپاره مونږ د ۲۰۱۹ م کال په پسرلی کې د ۱۲ مېشتو کوچیانو سره مرکې وکړې (په هر مېشتځای کې څلور، ټول د ټولنې مشران او ټول یې نارینه). مونږ په عمدی توګه پر کوچیانو ځانګړې تمرکز وکړ (مېشت ګاونډی ټولنې له پامه وغورځول شوې) ځکه مونږ غوښتل د ټولنې له منځ څخه د مېشتېدنې د محرکاتو په اړه نظر ترلاسه کړو. مونږ ددې مفروضې څخه پیل وکړ چې په شاوخوا سیمو کې مېشتې ټولنې به د کوچیانو د مېشتځایونو په اړه نسبتاً منفی نظریات ولري.

---

[1] انتونیو ګیستوزی، «د کوچیتوب او د کوچی – ځایی وګړو د شخړې په مدیریت کې د افغان دولت ونډه» (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، جنوری ۲۰۱۹)؛ انتونیو ګیستوزی، « په افغانستان کې د کوچی – ځایی وګړو د شخړې ډولونه» (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، جنوری ۲۰۱۸)؛ انتونیو ګیستوزی، « په افغانستان کې د کوچی – بزګر ترمینځ د شخړو څیړنه» (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، جولای ۲۰۱۷).

# په پخوا کې د میشتیدو تجربې

په افغانستان کې د کوچیانو د مېشتولو مفکوره نوې نده. د امیر عبدالرحمان خان او د نومړي د ځای ناستې دوهم حبیب الله د پاچاهیو پر مهال، د نورو مواردو ترڅنګ، د کوچیانو د مېشتېدلو څخه هغو سیمو ته د مرکزي حکومت د واک غځولو د یوې آلې په توګه کار واخیستل شو چیرې چې د حکومت واکمنی کمزوری وه او له همدې امله څرګنده وه چې دا کار به د اختلافاتو د رامنځته کېدو سبب شي. په همدې بهیر کې، کوچي او نیمه کوچي وګړو ته د متخاصمو خلکو په منځ کې ځمکې ورکړل شوې ترڅو کوچیان د مرکزي حکومت پر ملاتړو واړوي. دغه مېشتېدونکي وګړي تر ډېره نیمه کوچیاني پاتې شول.[۲]

د نادرشاه او ظاهرشاه د پاچاهیو پر مهال، د دښتې سیمو د خړوبولو او د هغوی د آبادولو په اړه یوه نوې تګلاره رامنځته شوه ترڅو کرهنیز تولید زیات شي. ډېری هغه کسان چې د ۱۹۴۲-۱۹۷۹م کلونو په دوران کې د داسې طرحو پر بنسټ لکه د هلمند په دره کې مېشت شول کوچیان وو. په هر صورت، دغه طرحې فقط په نسبي ډول بریالی شوې، ځکه پدې برخه کې د انجینیری، خاورې او د نمرو د ناکافي اندازو په شمول یو شمېر ستونزو شتون درلود.[۳]

همدارنګه کوچیان د ۱۹۷۸ م کال نه وروسته د چپي رژیم لخوا، کوم چې د یوې کودتا له لارې قدرت ته ورسېد، د ځمکې د اصلاحاتو د عملي کېدو څخه هم برخمن شول. د دوی له ډلې یو شمېر کسانو د اصلاحاتو پر مهال ځمکې ترلاسه کړلې، خو سره لدې هم دغه اصلاحات تر ډېره ناکامه او په لویه کې د ننګونو سره مخامخ وو.[۴]

په افغانستان کې د عامه عصري کولو د بهیر یوه پایله دا وه چې پالیسي جوړونکو لیواله وو ترڅو کوچیتوب ته د عصري پېر نه د مخکې پدیدې په سترګه وګوري، کوم چې باید له منځه یوړل شي او یا هم ترشا پرېښودل شي، چې دا کار معمولاً د مېشتولو او یا هم د ټولنیز نظم او کاري وېش د عصري مفکورو سره د کوچیاني ژوند د سمون له لارې ترسره شي. د مېشتولو له لارې امکان لري چې د زیربناوو په کارونې سره د څارویو د نسل پالنې طریقې پیاوړې شي، د څرځایونو څخه کار واخیستل شي او د نورو مواردو ترڅنګ د څارویو څخه د ترلاسه کېدونکو محصولاتو لپاره بازار موندنه وشي.[۵]

خو د ۲۰۰۱ م کال نه مخکې او په ځانګړي ډول د ۱۹۹۰ م کلونو په جریان کې د مېشتېدنې بهیر د دولت د لاسوهنې نه پرته په آزاده توګه ترسره شو. د ساموېل هال (Samuel Hall) لخوا په کابل ولایت کې د کوچیانو په اړه یوې ترسره شوې سروې وموندله چې په داسې حال کې چې یوازې ۰،۷ سلنه وګړي د ۱۹۷۱-۱۹۸۰م کلونو په بهیر کې مېشت شوي وو او دا شمېره د ۱۹۸۱-۱۹۹۰م کلونو په بهیر کې ۲.۱ سلنه وه، ۱۹۹۰ م کلونو لا له وړاندې د کوچیانو د مېشتېدو د بهیر پام وړ چټکوالی مشاهده کړی وو: یعنې د دې لسیزې په جریان کې ۱۱.۴ سلنه کوچیان مېشت شوي وو.[۶] په یقیني توګه چې دغه نمونه په ملي کچه د منځنۍ سلنې استازیتوب نکوي، خو د ۲۰۰۱م کال نه مخکې د مېشتېدنې د بهیر د جریان په اړه بل هیڅ ډول معلومات شتون نلري. څرګنده ده چې د ۱۹۷۸ م کال څخه وروسته شخړه یو داسې عامل ګڼل کیږي چې ډېری کوچیان یې اړ کړل ترڅو خپلو مهاجرتونو ته د پای ټکی کښېږدي او تر ډېره د پاکستان د کډوالو په پنډغالو کې لږ تر لږه په لنډمهاله ډول مېشت شي. د ۱۹۸۰او ۱۹۹۰ م کلونو په وروستیو کې، د هیواد ډېری سیمې لا له مخکې نه د کوچیانو د تګ لپاره محدودې شوې وې، چې دې کار ډېری کوچیان مېشتېدو ته اړ کړل.

۲ لیز آلډن ویلی، "د ځمکې حقوق په بحران کې" (کابل: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، ۲۰۰۳)، ۴۰ پاڼه.
۳ ویلی، "د ځمکې حقوق"، ۴۱ پاڼه.
۴ ویلی، "د ځمکې حقوق"، ۴۷-۴۸ پاڼه.
۵ هرمان کروتزمن او ستیفان شوټ، "جنجالي مشترکات – د افغانستان په شمال ختیځ کې د کوچیانو بیلابیلې ناامنۍ" Erdkunde ۶۵ ګڼه. ۲ شمېره: ۹۹-۱۱۹ (۲۰۱۱)، ۱۰۴ پاڼه.
۶ "د کابل د نوی ښار په سیمه کې د کوچي وګړو یوه مطالعه" (کابل: ساموېل هال، ۲۰۱۲)، ۳.۱ جدول.

## د ۲۰۰۱ م کال را وروسته میشتیدنه

که څه هم د کوچیانو مېشتېدل، لکه څرنګه چې پورته بیان شو، د پېړیو راهیسی په افغانستان کې جریان لري، خو د ۲۰۰۱ م کال وروسته دغه بهیر ګړندی شو. کیدای شی دا تر یو حده د اقتصادی، سیاسی او چاپېریالی شرایطو پایله وی. په ۲۰۰۵ م کال کې "د کوچیانو په اړه څو اړخیزې ملی ارزونې" وموندله چې ۱۵ سلنه کوچیان په دایمی توګه مېشت شوي دي.[۷] د کوچیانو ریاست کوم چې په ۲۰۰۲ م کال کې تاسیس شو، تر دې دمه ندی توانېدلی چې د کوچیانو په اړه یوه نوې سروې ترسره کړی، خو اټکل کوی چې په ۲۰۱۹ م کال کې ممکن شاوخوا د ۴.۵ - ۵ ملیون کوچیان په هیواد کې اوسیږي. ویل کیږی چې لدې ډلې، شاوخوا ۱۵۰,۰۰۰ – ۲۲۰,۰۰۰ یې نیمه کوچیان دي، که څه هم داسې ښکاری چې بشپړ کوچیتوب اوسمهال له منځه تللی. دغه شمېرې ښیی چې د ۲۰۰۱ م کال نه وروسته په کوچیتوب کې په ډراماټیکه توګه کموالی راغلی دی، ولو که دغو ټولو شمېرو ته په محتاطانه نظر وکتل شی.[۸]

د ساموېل هال (Samuel Hall) له لوری یوې ترسره شوې څېړنې هم موندلې چې د ۲۰۰۱م کال نه وروسته د کابل ولایت د کوچیانو ترمنځ د مېشتېدو بهیر په ډراماټیکه توګه چټک شوی دی. په داسې حال کې چې د ۲۰۰۱م کال څخه مخکې یوازې ۱۴.۲ سلنه کوچی وګړی مېشت شوی وو، د ۲۰۰۱-۲۰۰۷ م کلونو په بهیر کې دا شمېره ۴۴.۳ سلنه او د ۲۰۰۷ – ۲۰۱۱ م ترمنځ ۴۱.۱ سلنې ته رسېدله.[۹] د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری د دې پروژې لپاره مرکه کېدونکو کسانو منلې چې داسې ښکارې د مېشتېدو پر لور لیوالتیا زیاته شوې.[۱۰]

## د میشتیدنې ترشا عوامل (محرکات)

زمونږ د څلورو قضیوی مطالعو لپاره د مرکه کېدونکو کسانو د څرګندونو پر بنسټ د مېشتېدنې د بهیر عوامل، پرته لدې چې د هغو کسانو ترمنځ توپیر وشی کوم چې د چاړواکو لخوا په مجوزه دولتی مېشتځایونو او نورو کې اوسیږی، عبارت دي له: وچکالی، د ځایی وګړو سره شخړه، په هیواد کې د تاوتریخوالی ډېرېدونکی کچې، د څارویو ناروغی او، په یقینی توګه، جګړه او ناامنی.

د ساموېل هال (Samuel Hall) د څېړنې څخه ورته موندنې ترلاسه شوې: وچکالی، اوبو ته د لاسرسی نشتوالی او همدارنګه څرځایونو ته نه لاسرسی تر ډېره د میشتیدنې د لاملونو په توګه په ګوته شوی وو.[۱۱] همدارنګه د ساموېل هال د څېړنې لپاره ۴۷ سلنه مرکه کېدونکو کسانو روانې جګړې ته هم د مېشتېدو د عامل په توګه اشاره کړې وه، په داسې حال کې چې د مېشت ژوند دود جاذبه هم د ۴۵ سلنه کسانو په وینا د مېشتېدو د عواملو څخه شمیرل کیږی، چې د کوچنیانو لپاره تعلیم او روغتیایی چوپړتیاوو لاسرسی ته په ځانګړې توګه اشاره شوې وه.[۱۲]

### ۱ عامل: اقتصادی اړتیا / بیوزلې

د دې لپاره چې کوچیتوب پایښت ومومی، یوې کوچیانی کورنۍ لږ تر لږه د ۴۰-۵۰ څارویو (معمولاً پسونو) ته اړتیا لری. کله چې د رمې شمېر تر دې ټیټ شی، فقط یو څو محدود کلونه وخت نیسی ترڅو په احتمالی توګه دغه کورنۍ مېشتېدنې ته اړه شی. د ځمکې د اخیستلو لپاره ډېر ځله کوچیان اړ دي چې حتی نور څاروی خرڅ کړی، له همدې امله د ژوند تېرولو (ګوزارې) لپاره په زیاته توګه د اقتصادی فعالیتونو پر نورو ډولونو باندی تکیه کوي.[۱۳]

---

۷ فراک ډی ویجر، "د کوچیانو په اړه څو اړخیزه ملی ارزونه" (کابل: د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت، مې ۲۰۰۵).
۸ د کوچیانو ریاست د یو چارواکی سره مرکه، کابل، مې ۲۰۱۹.
۹ "د کوچی وګړو یوه مطالعه"، ۳.۱ جدول.
۱۰ ګیستوزی، « د کوچی – بزګر څېړنه».
۱۱ "د کوچی وګړو یوه مطالعه"، ۲۳ پاڼه.
۱۲ "د کوچی وګړو یوه مطالعه"، ۲۵-۲۲ پاڼه.
۱۳ هرو نیکول، "زما دره څومره سمسوره وه: د ده سبز په ولسوالۍ کې د بې ځمکو کوچی وګړو راتلونکی" (د اسلامی نړۍ او مدیترانې ارزونه، ۱۳۳، ۲۰۱۳)، ۲۳۵-۲۳۶ پاڼې.

## ۲ عامل: پوهنې او روغتیایی چوپړتیاوو ته د لاسرسي زیاتوالی

مېشتېدنه روغتیایی او ښوونیزو چوپړتیاوو ته د لاسرسي سبب ګرځي، چې داسې څه ته لاسرسی په پخوا کې د کوچیانو لپاره ډېر ستونزمن وو، او زمونږ له لوری د مرکه کېدونکو کسانو لخوا هم تائید شو.[14][15] که څه هم دا ممکن د مېشتېدنې د لومړنیو هڅو عامل نه شمېرل کیده، خو کله چې مېشتو کوچیانو د دغو ښېګڼو قدرداني پیل کړل، دوی په همدې ډول خپلو نورو کوچي خپلوانو ته بلنه ورکړه ترڅو دغو چوپړتیاوو ته د لاسرسي پخاطر مېشت شي. دا عامل د ۲۰۰۱م کال نه وروسته، کله چې افغانستان د جګړې څخه د رغېدو پر لور ګام واخیست او د پوهنې او روغتیایی چوپړتیاوو وړاندې کېدل بیرته پیل شول، اساسي ونډه ولوبوله، او داسې ښکاري چې دې عامل پام وړ اغېز درلودلی. په حقیقت کې، که څه هم د ۱۹۹۰ م کلونو په جریان کې کوچیاني ژوند ته بیرته مخ اړول کوم غیر عادي کار نه شمېرل کېده، خو د ۲۰۰۱م کال نه وروسته داسې څه کول نادر شو. په ۱۹۹۰م کلونو کې، کوچیاني ژوند لاهم د هغو کوچیانو لپاره چې د جګړې له امله اړ شوي وو چې په پاکستان کې کډوال شي زړه راښکونکی ښکارېده او د دوی له ډلې ډیرو کسانو رمې وپلورلې او مطلقاً هڅه یې وکړه چې بیرته کوچیان شي.[12][17]

## ۳ عامل: د یوې پیاوړې ټولنې رامنځته کول

یو ځای او په ګډه اوسېدل پدې معنی هم دی چې مېشت کوچیان کولای شي د مهاجرتي لارو په اوږدو کې د خواره شوو وړو کورنیو هستو په پرتله د خپلوانو د لویې ډلې سره په غوره توګه مرسته وکړي. بالآخره کوچیان کولای شي یو بډایه ټولنیز ژوند ولري او خپل مراسم او دودونه په ګډه ولمانځي او همدارنګه د یو بل ملاتړ وکړي.[18]

> دلته د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د اوسېدنې ښېګڼه داده چې پدې ځای کې ډېری داسې کوچیان هستوګن دي کوم چې ورته دودونه او رواجونه او همدارنګه د یو بل سره د خپلوی اړیکې لري. د دې ترڅنګ، مونږ کولای شو د سختو حالاتو پرمهال د یو بل ترڅنګ ودرېږو.[19]

باید اضافه شي چې مېشت کوچیان خپلو دوستانو او خپلوانو ته بلنه ورکوي (هڅوي) ترڅو د دوی سره یوځای مېشت شي. ډیرو دا بلنه ومنله ځکه د یو زیات شمېر کوچیانو د مېشتېدو سره د مېشتېدنې بهیر آسانه شو او خپلوانو کولای شول چې د احتمالي مېشتېدونکو کوچیانو سره د اوسېدنې، روزګار، یوه اندازه مالي ملاتړ او همدارنګه د سلاوو یا لارښوونې په برخه کې مرسته وکړي.[20]

> دغه کوچیان کوم چې په ښارونو کې مېشت شوي، دوی مونږ ته هم وایي چې کوچیاني ژوند بس کړو او ښارونو ته مخه کړو. ځکه پدې کوچیاني ژوند کې ډیرې ستونزې دي.[21]

---

۱۴ نیکول، "زما دره ځومره سمسوره وه"، ۲۳۵-۲۳۲ پاڼې.

۱۵ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹.

۱۲ د برکي برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۴ مې ۲۰۱۹.

۱۷ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹.

۱۸ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۱ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۲ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۱۹ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۱ فبروري ۲۰۱۹.

۲۰ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۱ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۲ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچي آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچي آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، برکي برک، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، برکي برک، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، برکي برک، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، برکي برک، ۴ مې ۲۰۱۹.

۲۱ د بابکرخیل قوم د کوچي مشر سره مرکه، د کابل ولایت ده سبز ولسوالی، ۲۸ جنوري ۲۰۱۷.

## ۴ عامل: مالي تراکم او د نويو مهارتونو ترلاسه کول (زده کړه)

یو شمېر کوچیان پدې بریالي شوي چې د پام وړ پانګې راټولې کړي، کوم چې د ۲۰۰۱م کال نه وروسته کله چې جګړه پای ته رسېدلې ښکارېده، د هغوی پواسطه یې هټۍ وپلورلې او یا یې هم په مرسته کاروباورنه پیل کړل. په نورو مواردو کې، خلیجي هیوادونو ته مهاجرت د دې لامل شو چې د دوی له ډلې ځینې کسان پیسې وګټي او لږ تر لږه یوه برخه یې بیرته په افغانستان کې پانګونه کړي.[22] پر دې سربېره، د میشتیدو له لارې، کوچیان کولای شي د خپلو نویو زده شوو مهارتونو څخه سمه ګټه پورته کړي او د اوږدې جګړې په پایله کې د بېځایه کېدو په سبب نوي فرصتونه کشف کړي.



خو لدې سره سره مېشتېدل خپل زیانونه هم لري. کوچیانو خپله نسبي آزادي له لاسه ورکړې او د افغانستان د نورو وګړو په څېر د ځایي متنفذینو د واکونو او غوښتنو تابع ګرځېدلي.

> [مشران] زمونږ څخه پیسې ټولوي او مونږ مکلف یو چې ور یې کړو ځکه که مونږ پیسې ورنکړو، نو دوی بیا مونږ ته بد رد وایي او هڅه کوي چې په مېشتځای کی مونږ منزوی کړي.[23]

۲۲ د نیازي قوم د کوچي مشر سره مرکه، د خوست ولایت دیری ولسوالی، ۸ اپریل ۲۰۱۷.
۲۳ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛

# قضيوي مطالعې: د ميشتيدنې عملي توب او پر شخړې د هغې اغيز

## د حکومت په اجازه رامنځته شوي ميشتځايونه

### د سناتور حاجي جنت ګل د ښارګوټي قضيه

د حاجي جنت ګل ميشتځای د کابل ښار لوېديځ لور ته پر هغو ځمکو جوړ شو چې پخوا د کوچيانو لخوا کارول کېده، او د يو مشر د وينا پر اساس تر ۱۲۰,۰۰۰ تنو پورې اوسېدونکي لري. لدې مځکې هم هلته د ميشتېدنې ځينې "خپلسري" بهيرونه جاري وو، خو په ۲۰۰۹ م کې، سناتور جنت ګل ولسمشر کرزی پر دې قانع کړ چې دولتي ځمکه کوچيانو ته انتقال کړي ترڅو د ميشتو کوچيانو لپاره يو ښارګوټی جوړ شي او همدارنګه دوی ته د ځمکې رسمي اسناد ورکړي. له هغې وروسته دا ښارګوټی د حاجي جنت ګل په نامه ونومول شو. د هغه وخت راهيسې دغه ميشتځای د هغې اصلي ځمکې په تناسب چې د کرزي لخوا ورکړل شوې وو، د ځايي ځورواکو لخوا د ځمکې د زيات غصب له امله ډير پراخ شوی. پدې توګه د بيلابيلو ولايتونو لکه خوست، پکتيا، پکتيکا، ننګرهار، لغمان، کابل، پروان، کندوز، بغلان او لوګر څخه د کوچيانو مختلف قومونه د جنت ګل په ښارګوټي کې ميشت شوي دي.[۲۴]

ميشت کوچيان د هڅيو د پرانيستلو، د ترانسپورت او يا هم کوم بل کاروبار (معمولاً د موټرونو د پېر او پلور) له لارې او يا هم د تنخواه لرونکې روزګار په واسطه عايد ترلاسه کوي. خو ددې سره سره، د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې ډيری ميشت کوچيان د خپل اوسني وضعيت څخه د ۲۰۰۱م کال نه وروسته د ستونزمن کوچياني ژوند په پرتله خوښ ښکاري. ځرګنده نده چې آيا دوی خپل نوی ژوند خوښوي او يا دوی وسايل يا امکانات په واک کې نلري، خو د دغو ميشتو کوچيانو له ډلې حتی ډير لږ کسان خپل پخواني ژوند ته د بيرته ګرځيدو په اړه فکر کوي.[۲۵]

> کله چې يو کوچي ميشت شي او د ميشت ژوند د ګټو څخه خوند واخلي، هغه به هيڅکله کوچياني ژوند ته مخ وانه ړوي ځکه مونږ ټول پوهيږو چې کوچياني ژوند د هلوځلو او زياتو سختيو او ستونزو څخه ډک دی.[۲۶]

> حتی که چيرې کوچياني ژوند ته د بېرته ګرځېدو زمينه برابره وي، نو بيا به هم مونږ داسې ونکړو ځکه چې مونږ د څارويو د اخيستلو او کوچياني ژوند د بيا پيلولو لپاره پيسې نلرو. که زه خپل اوسنی کور خرڅ کړم، نو دا به د ۲۰ څارويو د يوې رمې د اخيستلو لپاره بسنه ونکړي.[۲۷]

د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې ميشت کوچيان، د يوې عمومي قاعدې په توګه، زيات شمېر څاروی نه ساتي، ځکه په سيمه کې ډير لږ ځړځايونه شته او په غره کې ځړځای ته تلونکې لاره خوندي نده. د مرکو پر بنسټ، په ښارګوټي کې شاوخوا ۸۰ سلنه ميشت کوچيان هيڅ څاروی نلري، يا هم تر ډېره، دوه يا درې څاروی يې ساتلي، د کوم څخه چې د خپل کورني اړتيا د پوره کولو لپاره کار اخلي. نږدې ۲۰ سلنه کورنۍ لاهم پام وړ شمېر څاروی لري. شاوخوا ۲۰۰ کورنۍ (د ټولو کورنيو درې سلنه) زياتې رمې لري، خو تر ډېره د موسمي کډوالۍ پر ځای د څارويو کاروبار کوي. کيدای شي د دغو زياتو رمو درلودونکو کورنيو څخه يواځې ۵۰- ۹۰ (د ټولو کورنيو يو سلنه) يې لاهم په کوچياني ژوند کې ښکېل دي، يعنې د کورنۍ يوه برخه يې لاهم د څارويو سره سفر کوي.[۲۸]

د حاجي جنت ګل ښارګوټي د افغان چارواکو لخوا د کوچيانو د ميشتولو د پيل شوو سترو پروژو څخه يوه ده، خو په عمل کې د هغې پلي کول د هغه څه په پرتله چې په پام کې نيول شوی وو ډير توپير لري. د کرزي لخوا صادر شوی فرمان په ځانګړې توګه د هغو قبيلو د کوچيانو لپاره ځمکه ځانګړي کړي وه چې دغې سيمې (لکه تره خيل) ته يې مهاجرت کاوه او هلته ميشتېدو ته ليواله وو. خو د يو پياوړي کوچي ځورواکې لاس ته ددې پلانونو په لوېدو او/يا لدې امله چې په حقيقت کې د ګټه اخيستونکو کوچيانو ډيره برخه پر خپلو نمرو د

۲۴ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۱ فبروری ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۲ فبروری ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛

۲۵ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۱ فبروری ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۲ فبروری ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۲۶ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۱ فبروری ۲۰۱۹؛ په دشت خاکه کې د ميشت کوچي سره مرکه، برکي برک، ۲ اپريل ۲۰۱۹.

۲۷ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۲۸ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۲ فبروری ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۱ فبروری ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د ميشت کوچي سره مرکه، ۴ فبروری ۲۰۱۹.

کور جوړولو توان نه درلود، د دې سبب شو چې د ځمکې ډېره برخه پر ځايي خلکو يا هغو کوچيانو چې مستحق نه وو (ځکه ددوی ټولنو په دوديزه توګه دغو خړځايونو څخه کار نه اخيستل)، او يا حتی پر ځينی هغو کسانو (او يا د يو شمېر کسانو په وينا ډېری) چې دغه ځمکې بايد په وړيا توګه ورکړل شوی وای، وپلورل شوې. ځينی ځواب ويونکی حتی پدې نظر وو چې په حقيقت کې هيڅ کومه نمره په وړيا توګه ترلاسه نکړه. تر ۲۰۱۹ م کال پورې، د حاجی جنت ګل د ښارګوټي نيمايي وګړی ممکن هيڅ کوچيانی مخينه ونلري. د حاجی جنت ګل په ښارګوټي کې د ځمکې د نمرو بيې د اصلی ۵۰,۰۰۰ افغانۍ څخه (د هر ۴۰۰ متر مربع نمرې پر سر) نن ورځ تر ۳۰۰,۰۰۰ پورې لوړې شوی او اوسمهال ډېر کوچيان يې د اخيستلو توان نلري.

په افغانستان کې داسې "د ځواک ليدلوری" غير عادی ندی.[۲۹] يوه سرچينه ادعا کوی چې پدې پلان کې ښکېل يو ستر کوچی ځورواکی د داسې ځمکو د پلورلو له لارې ۳۵ مليون ډالره ګټلی دي؛ نوموړی او د هغه د کورنۍ غړی په ښارګوټی کې د ځمکو د ټولو ترسره کېدونکو معاملو پر سر د پيسو (فيس) غوښتنه کوی، او د دوی ۵۰ کسيزه وسلواله ډله ځايی اوسېدونکی دې کار ته د غاړې ايښودلو پخاطر ګواښي.[۳۰] نورو سرچينو څرګنده کړه چې ياد ځورواکي د عام المنفعه کارونو او په ښارګوټی کې د چوپړتياوو د وراندی کولو لپاره هم پيسې ټولوی، او همدارنګه د هټيو او هر ډول اقتصادی فعاليت څخه ماليه ټولوي. داسې ادعاوې هم کېدلې چې يوه نمره ځمکه پر بيلابيلو پېرودونکو خرڅه شوی او پخوا کې خرڅه شوی نمرې مصادره او بيرته پلورل کيږی.[۳۱]

په پايله کې د حاجی جنت ګل ښارګوټی د ذکر شوی کوچی ځورواکي لپاره په يوه داسی آله بدله شوې چې په مرسته يې د ځواک يو مرکز جوړ کړی ترڅو په مټ يې خپلو سياسی موخو ته ورسيږی، يعنی د ولسمشری، د نوماندانو او همدارنګه پارلمان ته د خپلې نوماندی څخه ملاتړ وکړی. تر ټولو اړينه دا چې کوم ځورواکی چې د حاجی جنت ګل د ښارګوټی واکې په لاس کې لری هغو کسانو ته چې د نوموړی څخه يې ځمکې پېرلی، د خپل ځان نه "د ځمکې قبالې" صادرې کړې، خو پېرودونکو د چارواکو څخه د ځمکې هيڅ ډول اسناد اوقبالې ندي ترلاسه کړې. د دوی له ډلې ځينی يې پدې نظر دي چې په اصل کې همدا ځورواکي دی چې د چارواکو لخوا د ځمکې د عادی قبالو د اصدار مخه نيولې، ترڅو دغه ځمکې پخپل واک کې وساتي.[۳۲]

> پدې بهير کې، مونږ د (نوم ليری شوی) سره ليدلي او مونږ د نوموړی څخه غوښتنه وکړه چې په ذکر شوی مېشتځای کې د نمرو او ځمکې د ويش پر مهال د (نوم ليری شوی) قبيله په پام کې ونيسی. نوموړی دا خبره ومنله او مونږ ته يې وويل چې دی به زمونږ د قبيلې هرې کورنۍ ته دوې نمرې راکړی، خو دا معامله پدې شرط ترسره شوه چې د اړتيا پر مهال به د ناصرو قوم د نوموړی سره مرسته او ورڅخه ملاتړ کوی. مونږ دا خبره ومنله [.]. کله چې د نوموړی کسانو د مېشتځای نقشه چمتو کړه، نوموړی د ناصر قوم ۲۰ کورنيو ته ۴۰ نمرې ورکړلې، چې هره نمره يې د کور جوړولو لپاره ۴۰۰ متر مربع ځمکه درلوده.[۳۳]

د حاجی جنت ګل د ښارګوټي ځورواکی اوسېدونکو ته وايی چې نوموړی به د دوی څخه د هر ډول ګواښ پر وړاندی ساتنه وکړی او همدارنګه د کابل ښاروالی به اړ کړی ترڅو دوی ته چوپړتياووي وړاندی کړی.[۳۴] د اوسېدونکو له ډلې يو تن تائيدوی چې ځورواکی هڅه کوی ترڅو اوسېدونکی د نوموړی پر ساتنې او ملاتړ ډاډمن کړي، او د نورو مواردو ترڅنګ، د مېشتځای د بهرنيو اړيکو واکې په خپل لاسی کې وساتي:

> [نوم ليری شوی] مونږ ته وايی چې دی به د هر ډول ستونزو پر وړاندی زمونږ څخه ساتنه وکړی. نوموړی ډېر ځله په دولت کې دننه د خپل نفوذ په اړه خبرې کوی او وايی چې هر ټاکل کېدونکی ولسمشر دده ملاتړ ته اړتيا لری او همدارنګه هغه مونږ ته نورې ادعاوې هم کوی. [.]. که چيری کومه ورځ (نوم ليری شوی) نور نه وی، مونږ به هرو مرو په ستونزو کې ګېر يو ځکه نوموړی داسې يواځينی کس دی چې د ښارګوټی کورني او بهرني اړيکي اداره کوی.[۳۵]

---

۲۹ نيک ميسزاک او اليساندرو مونسوتی، "د ځواک ليدلوری: ځايی هلې ځلې او د افغانستان د کابل په څنډو کې کليوال – ښاری ملی خطرات" (د بزګرانو د مطالعاتو ژورنال، ۴۱:۲، ۱۸۳-۱۹۸، ۲۰۱۴).

۳۰ د حاجی جنت ګل په ښارګوټی کې د يو مېشت کوچی سره مرکه، ۱ فبروری ۲۰۱۹.

۳۱ د حاجی جنت ګل په ښارګوټی کې د يو مېشت کوچی سره مرکه، ۲ فبروری ۲۰۱۹؛ د حاجی جنت ګل په ښارګوټی کې د يو مېشت کوچی سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د حاجی جنت ګل په ښارګوټی کې د يو مېشت کوچی سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۳۲ د حاجی جنت ګل په ښارګوټی کې د يو مېشت کوچی سره مرکه، ۱ فبروری ۲۰۱۹؛ د حاجی جنت ګل په ښارګوټی کې د يو مېشت کوچی سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹.

۳۳ د حاجی جنت ګل په ښارګوټی کې د يو مېشت کوچی سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۳۴ د حاجی جنت ګل په ښارګوټی کې د يو مېشت کوچی سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۳۵ د حاجی جنت ګل په ښارګوټی کې د يو مېشت کوچی سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹.

وروسته بیا ځورواکی پر دوی د خپل نفوذ او فشار په کارولو سره دوی د ځان د ملاتړ په خاطر راټولوي - چې په وروستي ځل داسې څه د ۲۰۱۹ م د فبروري په میاشت کې رامنځته شو، کله چې نوموړی دوی دې ته اړ کړل ترڅو د مرکزي دولت پر ضد په یوه لاریون کې ګډون وکړي. همدارنګه نوموړی ځورواکی مدام د نورو ځورواکو او ټولنو سره، کوم چې د نوموړي تر موخې لاندې دي، په شخړو کې ښکېل دی.

> د تېرو ولسمشریزو ټاکنو پر مهال کله چې د [نوم لیرې شوی (بل ځایي ځورواکي)] ترمنځ ناندرۍ راپورته شوې، زه راغلم او په هغه شخړه کې مې ګډون وکړ، خو لکه څنګه چې تاسو پوهیږئ، هغه شخړه د ځمکې پر سره نه وه بلکه د [نوم لیرې شوی] د ملیشو او [نوم لیرې شوی] ترمنځ وه، چا چې غوښتل ټاکنې د ځان په ګټه وګرځوي...[۳۶]

په یقیني توګه، د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د کوچیانو مېشتېدل د واک یو داسې مرکز رامنځته کړی چې د کوچیانو د دغه مشر څخه یې یو ځورواکی جوړ کړی - چې کولای شي د خپل ځواک او نفوذ څخه د دې سیمې څخه بهر هم کار واخلي.[۳۷]

## د خوشي د وزیر کارېز قضیه

د وزیر کارېز مېشتځای (خوشي ولسوالي، لوګر) په ۲۰۱۳م کې پرانیستل شو. دغه مېشتځای شاوخوا ۵,۰۰۰ جریبه (۱۰ کیلومتر مربع) ساحه په بر کې نیسي او اوسمهال پر دوو سیمو ویشل شوی: یوه یې نږدې ۲,۰۰۰ جریبه ساحه ده چې پکې د احمدزي قوم د موسی خیل قبیلې نږدې ۱۲۰-۲۰۰ کورنۍ مېشت دي، او بله یې ۳,۰۰۰ جریبه ده چې د نورو قبیلو یو شمېر کورنۍ (چې د "مهاجرینو" په توګه طبقه بندي شوي) پکې هستوګن دي. د دولتي پلان پر بنسټ په سیمه کې هرې مېشتېدونکې کورنۍ ته د ۱۰ جریبه ځمکې ونډ په پام کې نیول شوې وه او هره کورنۍ مکلفه وه چې د ځمکې د هر جریب په بدل کې ۲,۰۰۰ افغانۍ ادا کړي، خو دغه بهیر په سمه توګه عملي نشو او د ځمکو قبالې هیڅکله ونه وېشل شوې. دغو کوچیانو لا له مخکې د ۱۹۸۰ م کلونو په جریان کې پاکستان ته د تګ نه وروسته تر ډېره خپل کوچیانی ژوند پرېښی وو. د ۲۰۰۱-۲۰۰۵ م کلونو په بهیر کې دوی بېرته افغانستان ته کډه شول، او تر ډېره یې په خوست، کابل، ګردیز، لوګر او جلال‌آباد کې ځمکې رانیولې.[۳۸]

د کرزي د واکمنۍ پر مهال د کوچیانو یو شمېر نامتو مشرانو لکه حاجي نعیم کوچي، د نوموړي ورور حاجي سلیم کوچي او نورو پر افغان چارواکو فشار راوړ ترڅو پدې سیمه کې کوچیانو ته ځمکې ورکړي. د دې کار لپاره ولسمشر کرزي فرمان صادر کړ. په ۲۰۱۷ م کال کې، سیمه د چارواکو لخوا پدې موخه سروې شوه چې د هرې کورنۍ د نمرو حدود څرګند او همدارنګه د ښوونځیو او روغتیایي مرکزونو لپاره ورکړل شوې سیمې ځانګړې شي.

په وزیر کارېز (خوشي) کې د مېشتو کوچیانو اساسي فعالیتونه تر ډېره کرهنیز کارونه او وړې سوداګریزې معاملې دي، که څه هم د ډېرو کورنیو غړي په ښارونو او خلیجي هیوادونو کې په کارونو بوخت دي.[۳۹] دغه مېشت کوچیان د کورنۍ اړتیاوو د پوره کولو لپاره یوائې د ګوتو په شمېر څاروي پالي او هیڅ یو یې په کوچیانۍ ډول ژوند نکوي. دوی د کوچیانۍ ژوند د پرېښودلو څخه خوښ برېښي او لیواله دي چې د مېشتېدو پرته د بلې غورونې په اړه فکر ونکړي. د مناسبې خاورې له برکته د میوه لرونکو ونو په برخه کې د دوی پانګونه تر ډېره بریالۍ ښکاري او ډېرې کورنۍ د دې توان لري چې د ژوندانه د ګوزارې لپاره پر کرهنیزو محصولاتو تکیه وکړي.[۴۰]

> زمونږ یو شمېر خلک چې د روسانو د یرغل پر مهال پاکستان ته کډوال شوي وو او هلته یې د مېشت ژوند ښېګڼې ولیدل سملاسي یې خپل ټول څاروي خرڅ کړل او ځایي کسبونو (کاروبارونو) ته یې مخ واړول.[۴۱]

وروسته لدې چې مېشتو کوچیانو د کرهنیزو موخو لپاره د ځمکو اړول پیل کړل، نورې کوچي ټولنې د ځمکې پر لور لیواله شوې، په ځانګړې توګه د بابر و قوم. د مېشتځای په تړاو ډېرېدونکې لانجه د چارواکو تر کچې ورسېده او په ۲۰۱۸ م کال کې د لوګر چارواکو دغه

---

۳۶ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹.

۳۷ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۱ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۲ فبروري ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۳۸ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹.

۳۹ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹.

۴۰ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹.

۴۱ د وزیر کارېز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹.

نوري ټولنې د مهاجرینو په توګه کوم چې د پاکستان څخه راستانه شوي وو، وېشل. د اراضي ریاست (د افغانستان د ځمکو اداره) د دوی ترڅنګ ودرېده او د ځمکې هغه لویه برخه (۳,۰۰۰ جریبه) چې د موسی خیلو لپاره ځانګړې شوې وه پر دوی وویشله، او موسی خیلو ته یې د ځمکو د قبالو د ورکړې څخه ډډه وکړه. مېشتو کوچیانو لږ تر لږه لدې امله اعتراض وکړ چې دوی خپل وخت او ځواک د کورونو پر جوړولو او همدارنګه د کرهنیزو فعالیتونو لپاره د ځمکو پر چمتو کولو خرځ کړی وو. اصلي مېشته کوچیان (موسی خیل) ادعا کوي چې د اراضي ادارې ته بډې ورکړل شوې او داسې احساس یې کول چې دوی هم باید ددې لپاره چې د خپلې قضیې په تړاو د لوګر په ولایتي ادارې کې ملاتړې او خواخوږي پیداکړي، باید په کهول کې دننه یو اندازه پیسې ټولې کړي.[۴۲]

د بابرو (چې د اراضي لخوا یې ملاتړ کېږي) او موسی خیلو (چې د ښاري پراختیا وزارت د ملاتړ څخه برخمن دي) ترمنځ په سملاسي توګه شخړه رامنځته شوه چې دا په یو ډول د دولتي اداراتو ترمنځ د اختلافاتو یوه ننداره وه. دا شخړه لدې امله نوره هم کړکېچنه شوه چې د موسی خیل قوم ځینې کسانو د ځمکې د غصب په موخه د اصلي پولې هاخوا په تېریو او سرغړونو لاس پورې کړ.[۴۳]

> زمونږ د مېشتځای شاوخوا یو څه ځمکه شته، کوم چې مونږ هڅه وکړه غصب او د خپل مېشتځای سره یې یو ځای کړو. په حقیقت کې دغه ځمکې د دولت ملکیت دي. حکومت د دې ځمکې لپاره هیڅ کوم پلان نلری، له همدې امله د خپلو مشرانو په سلا مونږ یې دغصبولو هڅه کړې.[۴۴]

موسی خیلو د کوچیانو ریاست ته، کوم چې هڅه وکړه د اراضي اداره پدې کې دخیل کړي، غوښتنه وړاندې کړه خو د دوو کلونو د هلوځلو سره سره دې کار کومه پایله ورنکړه. وروسته بیا د وزیر کاریز موسی خیلو ځانونه د کوچیانو د څورواکو تر ملاتړې او خوندیتوب لاندې راوستل، څوک چې پخپل وار سره هڅه کوي ترڅو په حکومت کې دننه د دوی د اړیکو څخه کار واخلي. څورواکو د مېشتو کوچیانو څخه غوښتنه وکړه ترڅو د حکومتي چارواکو د ملاتړ د ترلاسه کولو یا اساساً هغوی ته د بډو ورکولو پخاطر پیسې ورکړي. دوی همدارنګه ومنله چې په ممکنه ستونزمنو حالاتو کې به د غوښتنې پر مهال د کوچیانو د مشرانو څخه ملاتړ کوي.[۴۵]

د "مهاجرینو" سره اخ او ډب د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۸م کلونو ترمنځ رامنځته شول، چې ډېر ځله یې د پولیسو لاسوهنې ته اړتیا درلوده او د اصلي اخ او ډب پر مهال د دواړو لورو څخه ځینې کسان ټپیان شول. موسی خیلو جګړه وګټله او د مقابل لور څخه یې لس تنه اسیران کړل. پولیسو د دواړو اړخونو مشران ونیول. حاجي نعیم کوچي د اسیر شوو "مهاجرینو" د خوشي کولو په بدل کې د موسی خیلو د مشرانو پر خوشي کولو ټینګار کاوه، خو دا لانجه لا تر اوسه نده حل شوې. وروستۍ شخړه د ۲۰۱۹ م په لومړیو کې رامنځته شوه او همداسې ناحل پاتې ده.[۴۶]

## اساسي موندنې

وزیر کاریز د بیوروکراتیکو سیالیو یو عمده بیلګه ده چې د مېشتولو طرحه یې د شخړې پر یوې بلې سرچینې بدله کړې ده. د دواړو دولتي مجوزه مېشتځایونو د قضیوی مطالعې څخه داسې څرګندیږي چې د لومړنی اجازې د ورکړې نه وروسته دواړه مېشتځایونه تر ډېره د چارواکو له پامه غورځېدلي دي. د مېشتېدلو اصلي ښېګڼه یعنې امنیت د حاجي جنت ګل په ښارګوټي کې د څورواکي له لوري د پلان شوې ناامنۍ او همدارنګه په وزیر کاریز کې د دولتي ادارو د خپلمنځي اختلافاتو له امله له منځه تللی. د کوچیانو د مېشتولو په بهیر کې د حکومت د مستقیمې لاسوهنې منطق، دې حقیقت ته په کتو سره چې هغه کوچیان کوم چې د دواړو طرحو د هر یوې څخه ګټمن شول یا خو له مخکې نیمه کوچیان وو یا حتی مېشت کوچیان وو، لږ تر لږه شکمن ښکاري.

۴۲ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹.

۴۳ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹.

۴۴ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹.

۴۵ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹.

۴۶ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د وزیر کاریز په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۴ اپریل ۲۰۱۹.

# ناقانونه میشتځایونه

## د کابل په لوېدیځ کې د حاجي نبي ښارګوټی، د کوچی آباد قضیه

د کوچی آباد مېشتځای د ۱۹۹۰م کلونو په وروستیو کې په تدریجي توګه هغه مهال راڅرګند شو کله چې د کوچیانو ځینو کورنیو د پاکستان څخه په راستنېدو سره پدې سیمه کې د کورونو ودانول پیل کړل، چې دغو کورنیو تر ډېره نیمه کوچیانی ژوند درلودل. دغه بهیر د ۲۰۰۱ م کال نه وروسته چټک شو، چې دا کار کم او زیات د هغو کورنیو څخه په بیلګې ترسره شو کوم چې لا له وړاندې هلته په بریالی ډول مېشت شوی وو. د ۲۰۰۸م کال شاوخوا، پدې سیمه کې له مخکې نه ۱۰۰ کورنۍ مېشتې وې. وروسته لدې چې په ۲۰۰۹م کال کې هزاره جاتو ته تلونکې لارې تړل شوې وې،[47] دغه بهیر نور هم ګړندی شو او اوسمهال د سهاکو د قوم ۴۸۰ کوچي کورنۍ پر هغه ځمکه مېشت دي کوم چې د یو شاهي فرمان پر بنسټ د دوی د لنډمهاله هستوګنې لپاره ځانګړې شوې وو (د دوی دودیزو دوبني څرځایونو ته څېرمه).

> دا ځمکه زمونږ په پلرونو او نیکونو پورې اړه لري ځکه هغوی دلته اوسېدلي او پاتې شوي دي. د هغه مهال حکومت د داسې ځمکو لپاره حقوقي اسناد صادر کړي او له همدې امله لاهم دا ځمکه زمونږ پورې اړه لري او مونږ یې د ځان د مېشتولو لپاره ترې کار اخلو. [48]

په داسې حال کې چې شاوخوا مېشت خلک هلته د دوبي په موسم کې د کوچیانو د مېشتېدو سره بلد وو، خو سیمه کې په دایمي توګه د دوی مېشتېدو ته په کتو سره د شخړې د رامنځته کېدو احتمال زیات شو. په حقیقت کې، د سهاکو قوم د حاجي نبي د ټول ښارګوټي د ملکیت ادعا کوي، چې دې کار د شخړې د زیاتېدو سره مرسته وکړه. دغه مېشتځای د یو قومي شورا لخوا چې اته غړي لري اداره کیږي او یواځې یوه قبیله پکې اوسیږي، د عیدوخیل قوم د سهاکو قبیله: په احتمالي توګه هلته ۲,۰۰۰ نارینه، ښځینه او کوچنیان اوسیږي چې ۵۰۰ ایکړه سیمه په بر کې نیسي.[49] یواځې ۱۵-۲۰ کورنۍ د پام وړ شمېر څاروي پالي، چې د تازه وښو پر ځای ورته پرورږ ورکول کیږي. د دغو کورنیو له ډلې، یواځې اته یې لاهم د لنډو مهاجرتي لارو په اوږدو کې سروبي ولسوالۍ ته خپلې رمې د پیولو لپاره بیايي، چې په ټوله کې ممکن ۱,۰۰۰څاروي وي.[50]

په کوچی آباد کې مېشت کوچیان هم په ځینو فعالیتونو لکه واړه کسبونه، موټر چلونه/ترانسپورت، لاسي کارونه، نارینه دندې او ودانیزو فعالیتونو کې بوخت دي، او د کار موندنې لپاره ډېری تر کوټې سنګې (کابل) پورې تګ راتګ کوي. په پاکستان کې مېشت د کورنۍ ځینې غړي هم د دوی سره د مرستې پخاطر پیسې رالیږي. خو داسې ښکاري چې د حاجي جنت ګل د ښارګوټي په پرتله دا نسبتاً ډېر بېوزله مېشتځای دی او د پخواني کوچیاني ژوند ارمان لاهم د ډېرو کسانو په زړونو کې تازه دی. د مرکه کېدونکو کسانو یوه یې هم د ماشومانو د تعلیم څخه د مېشتېدنې د یوې ښېګڼې په توګه یادونه ونکړه.

> که چیرې ما پیسې او امکانات موندل، زه به حتماً کوچیانی ژوند ته بېرته ګرځم ځکه د یو کوچي په توګه زه خوشحاله وم. که زما زامن او لمسیان کوچیانی ژوند ته د بیرته ګرځېدو لپاره لیوالتیا ونلري، نو بیا زه چمتو یم چې یو شپون وګومارم ترڅو د څارویو او رمو پالنه وکړي، او پدې توګه، زه به وکولای شم چې هم کوچیانی او هم مېشت ژوند دواړه سمبال کړم. [...] ټول [نور کوچیان] چمتو دي چې کوچیانی ژوند ته بېرته وګرځي....[51]
>
> که حالات بېرته عادي شي او مونږ په ټول هېواد کې امنیت ولرو، هر څوک به بیرته کوچیانی ژوند پیل کړي. په حقیقت کې، اوسمهال زمونږ لپاره فرصتونه زیات شوي دي ځکه مونږ کولای شو د لاریو او موټرونو څخه د خپلو څارویو او وسایلو د لېږدولو لپاره کار واخلو. ددې ترڅنګ، مونږ کولای شو د خپلو رمو د کتلو لپاره نور کسان وګومارو. اوسمهال په بازارونو کې هماغه څاروي په لوړه بیه پلورل کیږي، نو که چیرې مونږ څاروي وروزو او وساتو، نو دا به زمونږ لپاره زیاته ګټه لاسته راوړي.[52]

۴۷ وګورئ ګیستوزي، «د کوچي – ځایي وګړو د شخړې ډولونه» او ګیستوزي، «د کوچي – بزګر د شخړو څیړنه».
۴۸ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، ۱ مارچ ۲۰۱۹؛
۴۹ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ مارچ ۲۰۱۹.
۵۰ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۲ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۴ مارچ ۲۰۱۹.
۵۱ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۱ مارچ ۲۰۱۹.
۵۲ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچي سره مرکه، لوګر، ۳ مارچ ۲۰۱۹.

په هر حال، حتی دلته هم مېشت کوچیان مني چې په مېشتو ټولنو کې اوسېدل ځانته ننګونې لري، ځکه دوی کولای شی په آسانۍ سره د یو بل مرسته او ملاتړ وکړی.[۵۳] خو په غیر رسمی مېشتځای کې اوسېدل، دوی د پوهنې په شان چوپړتیاوو څخه محروم ساتلي.[۵۴]

د سهاکو د قوم مېشتېدل ممکن د دوی او ځایی خلکو ترمنځ د دوی د مهاجرتی لارو په اوږدو کې د یوې شخړې د راټوکېدو مخه نیولې وی، خو په یقینی توګه یی د کابل په لوېدیځ کې د مېشت هزاره ټولنې سره یوه نوې شخړه رامنځته کړه او همدارنګه د نورو کوچیانو لکه ملاخیلو او کاکړانو سره (په ۲۰۱۱-۲۰۱۲ م کې)، چې هغوی هم غواړی په ورته سیمه کې مېشت شی، شخړه یو ځل بیا راپورته کړه. دغه شخړه د طالبانو د امارت پر مهال رامنځته شوه او طالبانو د سهاکو د قوم په ګټه پرېکړه کړې وه.[۵۵]او[۵۶]

ملاخیلو د هغه څه په اړه چې پېښ شوی بیل نظر څرګند کړل:

> مونږ دې سیمې ته تر ډېره د طالبانو د رژیم پر مهال او له هغې نه پخوا د مېشتېدنې لپاره راغلی یو ځکه مونږ په پخوا کې د دې مېشتځای د سیمې څخه د ځړځای په توګه کار اخیسته[.] مونږ د سهاکو د قبیلې سره ډېر کلونه دلته په ګډه تېر کړي، خو کله چې د سهاکو شمېر دلته زیات شو او دوی د خپلې قبیلې نورو خلګو ته د راتګ بلنه ورکړه، دوی د دې مېشتځای څخه زمونږ په ایستلو پیل وکړ. دوی راغلل او په زوره یی زمونږ کورونو او پټن ځایونو ته اور پورې کړ. دوی د زور زیاتی او حتی د تاوتریخوالی نه ډک چلند کړی دی.[.] مونږ یی بیرته مقابله کړې او د ډېرو کوچی مشرانو او همدارنګه دولتی چارواکو دروازې مو ټکولی، خو هیچا زمونږ سره مرسته ونکړه. دوی زمونږ په ایستلو بریالی شول او اوسمهال زمونږ خلک په کابل ښار کې په خواره واره ډول ژوند کوي.[۵۷]

په حقیقت کې د سهاکو په څېر ملاخیل هم پر دې ځمکې ورته ادعا لری.

> د مېشتځای سیمه زمونږ د پلرونو او نیکونو ځړځای او د لنډمهاله هستوګنې سیمه وه. [.] مونږ ته له خپلو پلرونو او نیکونو څخه یو څه اسناد پاتې دي، خو حکومت یی کره توب (اصلیت) نه تائیدوی.[۵۸]

د راپورونو پر بنسټ د سهاکو قوم چارواکو ته اجازه ورنکړه ترڅو سیمه سروې کړي. د سهاکو او موسی خیلو ترمنځ د شخړې دوې دوسیې د کوچیانو ریاست ته سپارل شوي او همدارنګه د کرزی د واکمنۍ پر مهال بیلابیل کمیسیونونه جوړ شوي ترڅو دغه شخړه هواره کړی، خو لا تر اوسه دوی پدې کار ندی بریالی شوی.[۵۹]

لکه څرنګه چې دغه خپلسری او ناقانونه مېشتځای د لانجې د رامنځته کېدو سبب وګرځېد، د کوچیانو ځایی مشران اړ شول چې د کوچیانو د څورواکو او ملی سیاستوالو سره اړیکی ټینګې کړي ترڅو د دوی ملاتړ ترلاسه او په تدریجی ډول په لویو شخړو کې ښکېل شي.[۶۰]

## د لوګر ولایت د برکی برک ولسوالۍ د دشت خاکه قضیه

د دشت خاکه مېشتځای په ۲۰۰۳ م کال کې د هغو کوچیانو لخوا جوړ شو چې په پاکستان کې یی د ۱۹۸۰ م کلونو په جریان کې پناه اخیستې وو او وروسته بیا په ۱۹۹۰ م کلونو کې خوست ته کډه شوی وو. دا مېشتځای د دوو ټولنو څخه چې د کوز او بر دشت خاکه په نامه یادېږی جوړه ده او تر ۲,۴۰۰ هکتاره زیاته ځمکه (۱۲,۰۰۰ جریبه) چې دولتی څړځایونه دی په بر کې نیسی او پکې د مېشتو کوچیانو ۴۰۰-۲۳۰ کورنۍ (سرچینې ته په کتو سره) چې د احمدزی قوم په ۲۲ بیلابیلو ښاخو پوری اړه لری، هستوګن دي. همدارنګه دغه کوچیان د خپلو نیکونو پر څړځایونو مېشت شوي دي. پخوانی کوچیان کوم چې د مشر نعیم کوچی سره اړیکې لری، ادعا کوی چې په ۱۹۹۲م کال کې د

---

۵۳ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، لوګر، ۱ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، لوګر، ۲ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، لوګر، ۳ مارچ ۲۰۱۹.

۵۴ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، لوګر، ۳ مارچ ۲۰۱۹.

۵۵ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، لوګر، ۳ مارچ ۲

۵۶ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، لوګر، ۱ مارچ ۲۰۱۹ .

۵۷ د کوچی آباد په مېشتځای کې یو پخوانی مېشت کوچی، لوګر، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۵۸ د کوچی آباد په مېشتځای کې یو پخوانی مېشت کوچی، لوګر، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۵۹ د کوچی آباد په مېشتځای کې یو پخوانی مېشت کوچی، لوګر، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

۶۰ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، لوګر، ۲ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، لوګر، ۳ مارچ ۲۰۱۹؛ د کوچی آباد په مېشتځای کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، لوګر، ۴ مارچ ۲۰۱۹.

ولسمشر مجددی د صادر شوی فرمان پر اساس دوی ته دا ځمکې ورکړل شوي دي. خو دا فرمان د اوسنی افغان چارواکو لخوا په رسمیت نه پیژندل کیږي، که څه هم نسبتاً پدې نږدې وختونو کې د لوګر ولایتی اداري ددې سیمې سروې ترسره کړ، چې دا کار دې حقیقت ته ضمنی اشاره کوی چې ممکن په راتلونکی کې د دې مېشتځای مشروعیت ومنل شی. چارواکو پدې وروستیو کې د دې مېشتځای لپاره د یو کلینیک د جوړول منظوری ورکړې، خو لاتر اوسه وربادی کار ندی پیل شوی.[۲۱]

ددې ټولنې ټولو غړو کوچیانی ژوند په بشپړه توګه ترک کړی او د خپل کورنی اړتیاوو د پوره کولو لپاره فقط یو څو څاروی ساتي. دوی غنم، جوار او وریجې، او همدارنګه په ځینو مواردو کې میوه لرونکې ونې کري. دوی همدارنګه په وړو اقتصادی فعالیتونو، او تر ډیره د ترانسپورت په برخه کې په کار بوخت دي. د پاکستان څخه لېږل شوی پیسې هم د دوی د عاید سره پام وړ مرسته کوی. لدې امله چې دغه مېشتځای لا تر اوسه په رسمیت ندی پیژندل شوی، د یوائینی ټولنیز روغتیایی مرکز پرته هلته کرېږ شوي واټونه، ښوونځی او روغتیایی تاسیسات لا ندی جوړ شوي. خو سره لدې، دغه پخوانی کوچیان د مېشتېدو څخه خوشحاله بریښی، که څه هم دوی د چوپړتیاوو د نشتون څخه شکایت کوي. داسې ښکاری چې ځینی کسان لاهم د کوچیانی ژوند په ارمان دي.[۲۲]

مېشتو کوچیانو ډیر ژر په پخوا کې د مېشتو وګړو او نورو کوچیانو سره په لانجه کې ښکېل شول، په ځانګړې توګه هغه مهال چې د مېشتو کوچیانو شمېر مخ پر ډېرېدو شو. وروسته لدې چې د احمدزی قوم کوچیانو د مېشتېدنې لپاره د دولتی ځمکو پر غصب پیل وکړ، دې کار د شاوخوا ټولنو لیوالتیا راوپاروله او پدې عقیده یی کړل چې دوی هم باید په غصب شوی ځمکه کې برخه ولري. تر ۲۰۰۴م کال پوری د شاه مزاری د تاجکو اوسېدونکو سره اړیکې ترینګلې شوې وې او د مېشتو کوچیانو پر کورونو چاپې او حتی دوی ته اور ورته کول پیل شوی وو. داسې ښکارېده چې د ځایی دولتی چارواکو او ځایی منځګړو د منځګړیتوب له امله لانجه حل شوی، خو په ۲۰۰۷م کال کې د ستانکزی قوم په مېشتېدو سره شخړې بیرته سر پورته کړ. وروسته بیا په ۲۰۰۹م کال کې د کوز دشت خاکې په سیمه کې یو ځل بیا شخړه وټوکیده، چې د شخړې مقابل لوري د مېشتو پښتنو ائتلاف ستانکزی او تاجکان وو. په ۲۰۱۳ م کال کې، یوه نوې شخړه د پدوان او بک قلعه د ځایی وګړو ترمنځ رامنځته شوه. پدې شخړو کې د دواړو لورو څخه شاوخوا ۳۴ کسان ووژل شول. پدې برخه یو نوی منځګړیتوب بریالی شو، خو په ۲۰۱۸م کال کې د غدی خیل قوم سره د ځمکې پر سر شخړه یو ځل بیا ونښتله. د ځینو غرنیو ځمکو پر سر دغه شخړه لاهم همداسې ناحل شوی پاتې دی.[۲۳]

پدې مورد کې، مېشت کوچیان پدې ونه توانېدل چې هیڅ کوچی ځورواکی په خپله ګټه ښکېل کړي، ممکن لدې امله چې دوی ډېر بېوزلی دي او نشی کولای د خپل خوندیتوب پخاطر پیسې ورکړي. خو له بلې خوا د دشت خاکه مېشت کوچیان هغو کوچی مشرانو ته چې د دولت سره اړیکې لري او د طالبانو په لیکو کې دي پیسې ورکوی ترڅو د لانجو او شخړو د رامنځته کېدو پر مهال د دوی څخه ملاتړ وکړي.[۲۴]

## اساسی موندنې

نه په کوچی آباد او نه هم په دشت خاکه کې شخړه د کوچیانو او نورو ځورواکو د لاسوهنې له امله رامنځته شوه، که څه هم وروسته بیا په کوچی آباد کې دوی لاسوهنه وکړه. د دې څخه داسې ښکاری چې نامدیریت شوی او خپلسری مېشتېدل تر ډیره ممکن پخپله د نویو لانجو د رامنځته کېدو سبب شی، حتی پرته لدې چې پدې برخه کې یوه کرغېړنه بهرنی لاسوهنه وشی. له همدې امله د کوچیانو او ځایی خلکو ترمنځ شخړه د بدلون په حال کې دي، او ممکن د دې ډول مېشتېدنې د بهیر په سبب نور هم ځور واخلي.

۲۱ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۴ مې ۲۰۱۹.

۲۲ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۴ مې ۲۰۱۹.

۲۳ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۱ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۳ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۴ مې ۲۰۱۹.

۲۴ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۲ اپریل ۲۰۱۹؛ د برکی برک په دشت خاکه کې د یو مېشت کوچی سره مرکه، ۴ مې ۲۰۱۹.

# پایله

مېشتېدل د یو شمېر دلایلو په سبب ترسره کیږي او داسې هېڅ پلان یا طرحه نده چمتو شوې چې په مرسته یې د کوچیانو - ځایي خلکو ترمنځ شخړې ته د پای ټکی کېښودل شي. خو سره لدې، پداسې حال کې چې د کوچیانو - ځایي وګړو ترمنځ شخړه تریناګلې کیږي، دې راپور دا مفروضه وڅېړله چې ممکن د کوچیانو مېشتول د شخړې د حل برخه وي. لدې لیدلوري د مېشتولو د بهیر د ښېګڼو او زیانونو ارزوّنه یو پیچلی کار دی. پدې برخه کې ډېر منفي ټکي شتون لري. د کوچیانو مېشتول په یوه سیمه کې ممکن د شخړې یوې سرچینې ته د پای ټکی کېښېږدي، خو په عین حال کې په بل ځای کې د ځمکې د کموالي له امله نوې شخړې رامنځته کړي. له همدې کبله، دغه بهیر په یو ډول یوائې د شخړې بڼه بدلوي.

د ځړځایونو څخه د ګټې اخیستنې پر سر د سیالۍ له امله، هغه ټولنې چې په پخوا کې یې ځړځایونو ته د کوچیانو د لاسرسي په مورد کې هیڅکله اعتراض نه وو کړی، ددوی پر ضد راپورته شول. د حکومت له لوري په یوې ځانګړې سیمې کې د کوچیانو د مېشتولو د پروګرام په نشتون کې، دوی یا ښارونو ته مخه کوي او یا هم د ځمکې هره هغه ټوټه چې ومومي غصبوي. ډېر لږ کوچیان د ځمکو د پېرودلو زېرمې او توان لري، نو له همدې امله یو له هغو غورویانو څخه چې دوی په واک کې لري هغه د توان په صورت کې د ځړځایونو غصبول دي. د ناچارۍ له مخې، هغه کوچیان چې لا ندي مېشت شوي او هغه ځایي وګړي چې د ورته ځړځایونو څخه ګټه پورته کوي هغوی به د دې کار پر وړاندې د اعتراض غږ پورته کړي، چې دا به د نویو شخړو د راټوکېدو سبب شي. کیدای شي د مېشتېدنې د بهیر په تړاو د دولت کمزوري، پاشلي او پټ اقدام د شخړو د رامنځته کېدو سبب ګرځېدلی وي.

خو سره لدې، حتی د دولت په مالي ملاتړ او اجازې د مېشتځایونو د رامنځته کېدو په محدودو مواردو کې، کارونه په سختۍ سره په عادي ډول پرمخ ولاړل. چارواکي هیڅکله ونه توانېدل چې د مېشتېدنې بهیر په اغېزمنه توګه مدیریت کړي، په ځانګړې توګه د وزیر کارېز په قضیه کې، چیرې چې د دولت مختلفې ادارې د بیلابیلو او سیالو ټولنو ترځنګ ودرېدل. په ښه حالت کې د دولت پلانونه او تګلارې نیمګړي او په کمزوري ډول عملي کیږي، او همدارنګه په اداري فساد ککړ او د مخکښو کسانو لاس ته د لوېدو د خطر څخه زیان منونکی دي. د پوهنې، روغتیایي چوپړتیاوي او داسې نورو آسانتیاوو وړاندې کول په پټه بڼه پرمخ روان دي. په بل عبارت، د حکومت په مالي ملاتړ د مېشتېدنې عملي کېدونکې طرحې نامعقوله دي، مګر دا چې چارواکي دوی په لازیاته اغېزمنه توګه مدیریت کړي، او یا لږ تر لږه، خپلې ژمنې عملي کړي.

خو د دې سره سره، د کوچیانو مېشتول مثبتې پایلې هم لري. د اقتصادي عملي توب له پلوه، د کوچي آباد په نسبي استثناء، په ټوله کې کوم څلور مېشتځایونه چې زمونږ په سروې کې تر پوښښ لاندې راوستل شوي، په ښه حالت کې قرار لري. د دې اصلي لامل د بهر څخه رالیږل شوي پیسې او په ښارونو کې د کارکوونکو کورنیو د غړو مرسته ده، چې له امله یې ټول څلور مېشتځایونه پر ځان بسیا ښکاري، که څه هم د دوی ترمنځ د ځمکې د کیفیت او د ښارونو مرکزونو ته د نسبي نږدیوالي له امله پام وړ توپیرونو شتون درلود. هغه مېشت کوچیان چې د ګټورو کرهنیزو فعالیتونو په پیلولو بریالي شول (معمولاً میوه لرونکې ونې) تر نورو یې ښه ژوند درلود. د دولت ملاتړ هم په یو داسې ډول مواردو کې مرسته کوي، ځکه د میوه لرونکو ونو کرل یوه اوږدمهاله پانګونه ده چې پر اوږدمهاله راتلونکي یو څه ډاډ ته اړتیا لري. د حاجي جنت ګل د ښارګوټي په څېر ستر مېشتځایونه د پایښت لپاره تر ډېره د تنخواه لرونکو روزګارونو پر شتون ډاډمن وو. د سروې شوو مېشتځایونو د اندازې له امله، نه نیمه کوچي توب او نه هم د څارویو د پالنې نور ډولونه د مېشتېدنې د اقتصادي پایښت د تضمین په برخه کې کوم پام وړ ونډه لوبوله، خو ممکن داسې څه په وړو مېشتځایونو کې توپیر ولري. داسې ښکاري چې ډېری هغه کوچیان کوم چې مېشت شوي، پټیلې چې مېشت ژوند تر کوچیانی ژوند غوره دی، لږ تر لږه د افغانستان د تېرې ۴۰ کلنې رواني جګړې په بهیر کې داسې څه تجربه شوي دي. دا هر څه لدې امله هم زیات د پام وړ ارزښت لري چې کوم کوچیان چې مېشت شوي داسې څه یې د لږې یا هیڅ سلا سره ترسره کړل او نوې مهارتونه یې نسبتاً په بریالي توګه زده کړل.

که څه هم اوسمهال د ښېګڼو په پرتله د منفي اړخونو پله يې درنه ده، خو د مېشتېدنې بهير د هغې په پام کې نيولو پرته جريان لري او احتمالاً په راتلونکې کې به هم ادامه ولري. د کوچيانو د رياست څخه ترلاسه شوو شمېرو ته په کتو سره، چې ښيي يوازې نسبتاً لږ شمېر نيمه کوچيان فعال دي، کيدای شي داسې ادعا وکړو چې د مېشتېدنې بهير تقريباً لا له مخکې نه بشپړ شوی دی. پدې اړه منفي اړخونه هم پخپله د مېشتېدنې د بهير په نسبت د افغان حکومت د زياتې بې کفايتۍ. سره تړاو لري چې پدې ندې توانېدلی خپل د مېشتولو طرحې او پلانونه پلي کړي.

پر دې سربېره، د مرستو لپاره د اړمنو طبقاتو (لکه راستنېدونکی کډوال، داخلي بېځايه شوی کسان، او داسې نور) بيلابيلو غوښتنو ته په کتو سره، مېشت کوچيان بايد د چاروا کو څخه دوی ته د عامه چوپړتياوو د تدريجي زياتوالي هاخوا د زياتو مستقيمو مرستو تمه ونکړي.

سره لدې، افغان دولت په آسانۍ سره کولای شي د ځمکې د تخصيص په اړه د پرېکړو د نيولو او د هغوی په واضح او دوامداره عملي کولو سره د کوچيانو مېشتول تر ډېره ساده او اغېزمن کړي. دا کار به هغه بهير اساساً قانوني او منظم کړي کوم چې د چاروا کو د اجازې پرته په آزاده توګه جريان لري. همدارنګه چاروا کی کولای شي د مېشتېدنې د بهير څخه د ځورواکو په ليری ساتلو او په بدل کې په مستقيمه توګه د کوچيانو د ټولنو سره د اړيکو د ټينګولو په برخه کې همکاري وکړي. داسې څه به د زياتو پيسو د لګښت پرته، د دولت پر مشروعيت باندې مثبتې پايلې ولري.

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو يو دوامداره لوستونکي ياست، د AREU ليکچر يا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون يې کاروئ، يا يوازې په دې وروستيو کې له دغه ادارې سره بلد شوي ياست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پايلو د شريکولو طريقې و ارزوو. د نظرونو شريکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ايميل کول دي: areu@areu.org.af

يا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: **۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸**. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته يې ويلی شئ، خو په ممکنه ډول يو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړيکه نيسئ (يعني د خپرونو، غونډو يا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بريښنايي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهيرونو يا پايلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې يا موضوعګانې چې تاسو يې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې يا فعاليتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې يا لېوالتيا ډګر، دنده يا څېړنه، او دغه راز موقعيت؟

# د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداری نوی خپرونی

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره) په www.areu.org.af کې د لاسرسي وړ دي، او ډیرې ئې د هارد کاپې(چاپي بڼه) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکی (مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د خیړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۸ غبرګولي | لمر په دوو ګوتو نه پټیږي | ډوېډ منسفلید | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۱۳۹۷ لړم | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه آدارې سازمان او جوړښت څیړنه | میرویس ایوبی او ډاکتر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ مرغومی | د ۱۳۸۲ کال د اساسي قانون په رڼا کې د افغانستان د عامه آدارې سازمان او جوړښت څیړنه | میرویس ایوبی او ډاکتر هارون رحیمی | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څیړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسی نوټ |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د افغانستان پارلمان: د ۲۰۰۱ کال راهیسې د اساسي قانون پر بنسټ د ورکړل شوو واکونو اوعملی کړنو پرتله | شمشاد پسرلی او زلمی مالیار | √ | √ | اساسي قانون | تحلیلی څیړنه |
| د ۱۳۹۷ سلواغه | د کوچیتوب، د کوچیانو او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د شخړو په مدیریت کې د افغانستان د دولت رول | ډاکتر انتونیو ګیستوزی | √ | √ | د کوچیانو او د سیمې د اوسیدونکو ترمنځ ښخړې | تحلیلی څیړنه |
| د ۲۰۱۸ اپریل | نور معیاری پروګرامونه بس دي: په ماتیدونکو شرایطو کې اقتصادي پرمختګ | SLRC | √ | √ | تولنیز ملاتړ | لنډه لیکنه |
| د ۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څیړنه:په افغانستان کې د انسانانو له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | سوپروا نارا سیمهایا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی لیکنه |
| د۲۰۱۸ مارچ | یوه نقشه ایزه څیړنه: په افغانستان کې د انسان له قاچاق سره د مبارزې بنسټیز مکانیزمونه | ولی محمد کنډیوال | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوري | ښاري خوندیتوب: په افغانستان د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته بیا کتنه | یما ترابي | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۸ جنوری | په افغانستان کې د میشتو کوچیانو د شخړو ډولونه | انتونیو ګیستوزي | √ | √ | د طبیعی سرچینې مدیریت | موضوعی لیکنه |
| د ۲۰۱۷ نومبر | ناروغتیا یا علامی؟ په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان د ودې کوونکو ترياکو اقتصاد | ویلیام ای. بایرد | | | د طبیعی سرچینی مدیریت | د پالیسي یادښت |
| د ۲۰۱۷ دسمبر | په افغانستان کې د اروپایی ټولنې د ستونزې د غبرګون تحلیل | چونا آر. ایچاویز، قیوم سروش | | | ټولنیز ملاتړ | د پالیسي یادښت |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۷ اکتوبر | په واقعي توګه بيساري: په هلمند کې د خوړو زون ختګه په ولايتونو کې د ترياکو توليد د ډېروالي ملاتړ وکړ | ډوېډ منسفليد | √ | √ | د طبيعي سرچينې مديريت | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال اګست | په افغانستان کې قضايي بيا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال آګست | په افغانستان کې اجرايي بيا کتنه | کاوون کاکړ | √ | √ | اساسي قانون | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | ښځې د افغانستان په کرنه کې | لينا ګانيش | | | جنسيت | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د اوبو په برخه کې د سمونې اغيزې | اتل احمدزی | | | حکومتولي | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | په افغانستان کې ښاري حکومتولی | ديتليف کمير | | | حکومتولي | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ کال جولای | د دولت د ادارو دندو ته بيا کتنه | اکسل کويتز | | | حکومتولی | موضوعي څېړنه |
| د ۲۰۱۷ جولای | په افغانستان کې د کوچيانو – بزګرانو شخړې | انتونيو جيو ستوزي | | | د طبيعي سرچينې مديريت | لنډيز |
| د ۲۰۱۷ کال جون | په افغانستان کې د حکومتولی د ارزونی چوکاټ (LGAF) | AREU | | | حکومتولی | رپوټ |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشت تګ کربښې: د هرات له درې کليو څخه بېلګې | دانيل هت، ادم پين او احسان الله غفوري | | | تولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوري | په افغانستان کې د معيشت تګ کربښې: د «وروسته پرمختيا» په وخت کې ژوند | جيوليا مينويا او ادم پين | | | تولنيزه ساتنه | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | په افغانستان کې د معيشت تګ ګربښې: د کندهار په ولايت کې چوپ تاوتريخوالی | دانيل هوټ، ادم پين او احسان الله غفوری | | | تولنيزه ساتنه | کاری ليکنه |
| د ۲۰۱۷ جنوری | زعفران: د توليد ټولنيزې اړيکې | جيوليا مينويا او ادم پين | | | د طبيعي سرچينو مديريت | کاري ليکنه |
| د ۲۰۱۶ اکتوبر | د خوځښت وخت: په افغانستان کې د کوکنارو ترياکو، کښت ته د پرمختيائي غبرګون را مينځ ته کول | ديويد منسفيلد، پاول فيشستين او OSDR | | | د طبيعي سرچينې مديريت | موضوعی ليکنه |
| د ۲۰۱۶ جولای | په افغانستان کې د کليو د شرايطو دشننې کارول: ميتوودونه او پراخ دليلونه | ادم پين | | | پاينښت لرونکې معيشت | کاری ليکنه |

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

څېړنه د ښه افغانستان لپاره

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری ټولی خپرونی ددغی اداری له کورپاڼی (www.areu.org.af) څخه ترلاسه کولای شی.

په کابل کې ددغه اداري په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره
لسمه ناحیه، لومړی سړک، ښار نو،
کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+
publications@areu.org.af
ویب پاڼه: www.areu.org.af



ISBN 978-9936-641-36-5
9 789936 641365